ليکونکې: رايمککوبرين (Ray McGovern).

منبع او خپريدو نيټه : ( انفارميشن کليرنګ هوز«۲۰۱۴-۶-۴»)

ژباړونکې: پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل».

-----------------------------------------------------------------------

# د برګدالد د داستان ريښتيا نی بدرګه (ورانکاری)

## The Real Villains of the Bergdahl Tale

دجون دمياشتی څلورم کال «۲۰۱۴»[–ايتلافی خبرونه]: ماته د برګدال پيښه هغه تير مخکينی له قهره ډک خاطری را ژوندی کوی چي څنګه په کال «۲۰۰۹» کی دامريکی دمتحده ايالاتوجمهورريس ښاغلی بارک اوباما امريکايی جنرالان چی دمدالونو اود تزينی رشموسره په رسمی يونيفورم ملبس وه دهغو تر پښو لاندی خمکه وکيندل اود هغه جنرالانو څخه يوهم جنرال دويد پتريوس (David Petraeus) وه چی د هغه ترپښو لاندی خمکه کاوکه کړ او ورته امر وکړ چی د(۳۳۰۰۰) امريکای سرتيرو کوم چی په افغانستان کی خپل دندی ترسره کوی دهغوی په شمير کی يوڅه اصلاحی محد ود يت يا «رغړيد نه »راولی يعنی دهغو له ګنوګونوڅخه يو څه کم يا زيات کړی .

په کارکی بزدلی ښوول اوهغه هم دتجارتی ژوندپه روند اوجريان کی يواځی دسياسی لوړتيا غوښتنی دپاره دناسم يا دناوړی لاسته راوړنی تر عنوان هڅی يعنی څه ؟

برګدال په ډير بيړه سره پوه شو اودځان سره داتشخيص وکړ چی هغه اودهغه ملګری کوم چی دلته په افغانستان کی پلی شوی دی نه داچی دافغانستان خلکوسره مرسته ترسره کيری بلکه دهغه پر ځای افغا نا نو ته ډير نقص اوتاوان رسوی يعنی د با ند نی نظامی قوتونو موجوديت دلته په افغانستان کی له دی نه چی افغا نا نو ته ګټه ورسوی دهغه ضرراوتاوان يی زيات دی هغه يعنی برګدال دجون دمياشتی په وروستيو کال «۲۰۰۹» کی له افغنستان څخه يو ايمل وليږل اوهغه په دی ايمل کی دا لاندی کليمی په کار وړلی وه : ته چی دلته دامريکی په اردوکی اوسی يا دندی ترسره کوی نودستا له ايمانداری او صداقت څخه کميږی يعنی لوړ پوړی چاروکی تا مجبوروی چی په خپل صداقت اوايمانداری کی کمی راوړي اما که چيری ته وغواړی چی د لوړپوړو متکبرو نظامی چاروکو دپا ره د غولو (غايطی مواد) په کخوړی اوتوبره با ند ي واوړی نوهرهغه څه چی وغواړی هغه تر لاسه کولای شی .

اما دبرګدال دخبرو په بنياد سره دغه سلوک اوچلند له تاکلی کرښی څخه څومره ليری اووړاندی ځي ا يا په دی کی پتريوس هم شامل دی کوم چی د مرکزی فرماندهی د قوماندان ادميرال ويليهم ؛فاکس؛ فالون ( W.Fox Fallon) له طرفه دغه موضوع د «خر پواسطه سره دچورګوری دنجاست (ګوی مرغ) د بنکلول په بنه وروسته له هغه چی پتريوس دهغه سره په ملاقات کی غوښتل خپل برتری وغواړی توضيح اوتشريح

شو ( که نه نوولی فاکس فالن هغه یواخني کس وه چی هغه یی یعنی پټرویس یی له دندی گوښه کړ؟) گرچي پټریوس پځپل دولتی مقام با ندی ډیر نا زیده اما په پای کی دجنسی افتضاح په نوم او عنوان سره له خپل د ندی څخه معزول شو .

دلته یو سوال را پیدا کیږی اوهغه دا چی آیا دامریکی دمتحده ایالاتو داعلی سرقوماندان ښاغلی بارک اوباما په نظر دجنرال پټریوس القا ب یا رتبه دادمیرال فاکس فا لون دالقابو څخه لوړبرییښیده چی جنرال پټریوس ته هدایت ورکوی چي په افغانستان کی دسرتیرو په «رغړیدل» با ندی اقدام وکړي، لکه چي داول ځل د پا ره دوه کاله د مخه په عراق کی غبرگونی «رغړیدل» وزیږول اودیوڅه پیشبینی له مخی له هغه څه چی وړاندیز شوی وه یا پیشبینی شوی وه ډیر بی گناه عراقیان ووژل شو اوله دی ماجرا څخه دغه دوه گمراه کونکی معمارانو ته دافرصت تر لاسه شو چی دخپلو اصلی پریکړو او دماتو یا دناکامیو تر مینځ یو څه فاصله ونیسی او له سره فکر وکړی .

هغو یعنی دغه دوه گمراه کونکی معماران کوم چی دغه واټن ددوه «رغړیدلو » څخه تر لاسه کړ نو په همدی فاصله اوموده کی هغوی هریو د امریکی د سرتیرو د(۱۰۰۰) نفرو د مرگ عا مل وگرځید سربیره پر هغه چی څه شمیر عراقیان او افغا نا ن به په دی موده کی خپل ژوند دلاسه ورکړی وي . اما دغه « رغړید نه » په رسمي بني سره دواشنگټن محافظه کارانو نفوذ اوبرلاسی ته اجازه ورکړ چی دغه حا لت او یا دغه داستا ن خوندی وسا تی ترڅو چی وکولای شی یو «بریالی رغړیدو» ته په نا محدود اندازی سره دودی اودپراخید و زمینه برابرکړی اوبیا څرگند کړی چی ټو ل کارونه په ښه ښان سره ترسره کیږي .

دمثال په توگه ،په «۲۸» دمی په میاشت کی دغه نازولی اودتکړی پرسر گلان نوی محافظه کارانو په واشنگټن پُست کی پر« اوبا ما» باندی تور ولگول اوهغه یی محکوم کړچی ولی هغه ونه غوښتل چی دامریکی د متحده ایالاتو سرتیری اونظا می قوتونه په عراق ، لیبیا اوپه افغانستان کی د تل د پاره پا تی نشي .

« دواشنگټن پُست سرمحرر په استهزا آمیز بڼی سره ولیکل چي تاسی نشی کولای چی جمهور ریس اوباما په دی قصور سره گرم وبولی ، ځکه چي هغه وروسته د(۲۰۰۸) کال د ټولټاکنو د گټلو څخه د امریکی دمتحده ایالاتو دنظامی قوتونو حضور په عراق کی راکمه کړ اوصفر ته ورسول اوبیا معمرالقدافی دلیبیا اولسمشر یي په کال (۲۰۱۱) کی له واکه را نسکور کړ او هغه په دی ډاډه وه چی دامریکی د نظامی قوتونو پا تي کیدل هلته ضرور نه وه .اوبیا اوس د سه شنبی په ورځ هغه وعده وسپارل چی د (۲۰۱۶)کال په اخر کی به دامریکی ټول نظامی قوتونه له افغانستان څخه راباسی او په عین وخت کی زیاته کړ چی دافغانستان پریکړه ددرک وړ یوموضوع دی کوم چي د ایخپله داوبا ما دمخکینی ثابت انتخاب یو ثبوت راښیی. اما هغه څه چی په دی برخه کی د تبصری وړ برییښی هغه دادی چی دهغه پا یلی په دوامدار توگه سره بد اونا وړی دي.»

اوس داسی را معلومیږی چی دا دوه «رغږید نی یا موج » دواشنګټن پُست سرمحرر اوهغو نورو کسانو کومو چي خپل ملاتړ دجګړی ددوام په اړه د ماښامنی ډوډی په میز کی پری خبری کوی ډیریوبی ساری او بریا لی لاسته راوړنه اواوسی او پرته له هغه ممکن چی دوی دهغوکسا نوپه وړاندی چی دماښا منی ناستی څخه لذ ت وړی ددی لاسته راوړنی ارزش درابلل شوی اویا درخصت کړل شوی بایولونکوپه صفت دلاسه ورکړی کوم چی د برګدال په نړی کی هغه ته هیڅکله ډیر مهم نه بریښی .

دافغانستان دجګړی سره د «برګدال» او دهغه د ملګرو سرخورده ګی اووروسته له هغه څخه دپنځو کلونو دپاره دطا لبا نو سره په بند کی اوسید ل اوبیا په یوه معامله کی دطا لبا نو دپنځو رهبرانوسره دګوانتناموبای په زندان کی خبری اتری په نظر کی نیولو سره د ښی اړخو اوحتی د کنګرس د ځنو غړو له خوا «برګدال » دخپل وطن اودخپل ملګروپه وړاندی دوطن دیو «فراری» اوخاین شخص په صفت رسوا اوونومول شو.

اما ریښتیانی او واقعی خاینان هغه کسان دی کوم چی ددی دوه ناکامو جګړو طرحی وړاندی کړ اوله هغه څخه ښارنه وکړل ، کوم چی دهغه په پایله کی د دوو هیوادونو په سلونو زروخلکو خپل ژوند دلاسه ورکړل اوتقریباً نژدی (۷۰۰۰) امریکایی سرتیری «اوپه لس ګونو زرو نورو په معیوبتونو اوجبران نه منونکی تاوان اوخسارو سره مخامخ شو » په هلاکت ورسیدل . اما دتاسف ځای په دی کی دی چی دجګړی دغه معماران او ترویج کونکی لاتراوسه دواشنګټن درسمی مقا ما تو په صفت درنا وی کیږی او دهغو لیکنی او اندیښنی د واشنګټن پُست دسرمقالو په ستنو کی دسوری اود اوکراین دبحران په اړه دهغو په مقالو کی په اصطلاح حکیمانه پندو اونصیحتونه دلوستونکودپاره خپریږي .

## له حده زیات انتظار وړل :

په کال «۲۰۰۹» کی کله چی «اوباما » دلمړی ځل د پا ره پرافغانستان باندی پیچلی «رغږید نه» وځرخاوهُ زه اعتراف کوم چی ددی ځوان نوی جمهور ریس څخه می ډیر انتظار لرل چی هغه به زما په شان بی تجربوو ته لاره روښا نوي ، ما د مارچ په میاشت کال (۲۰۰۹) کی یو مقا له د ( ښاغلی جمهور ریس ویتنام ته ښه راغلاست ) تر سرلیک لاندی داسی ولیکل : او ومی ویل چی زه تیروتی اوم چی می ویلی وه چی دا ډیر ساده اوبی تکلف موضوع بریښی چی ډیر جدی ونه نیول شي کوم چي ښاغلی بارک اوباما پخپل ریاست جمهوری کاندیداتوری ټولټاکنو کی په افغانستان کی دجګړی دشدت ضرورت ووینی اویایی طرح کړی ما له ځانه سره فکر کاوه اویا داسی احساس می لرل چي ښاغلی اوباما به دافغانستان د تاریخ په هکله یو څه لنډ او رغنده معلومات به ولری کوم چی په وار وار سره ثا بت شوی اوهغه داچی افغا نی شبهه نظامیا ن دا توانایی او قدرت لرل او لری چی دتاریخ په اوږدو کی خا رجی اوپردی یرغلګر له سکندر کبیر څخه نیولی بیا ترفارسیا نو، مغولانو،هند یا نو،انګلیسا نواوروسا نوله خپل پلرنی خاوری

ښځه ویستلی وژلی او رټلی دی  او یا داچی ما داسی فکر کاوه  چی شاغلی اوباما به په دی موضوع  با ندې اوپوهیږی  چی دغه غرنی هیواد دلوی امپراتورانودقبرستان په نوم سره  یادیږی .

دبلی خواڅخه اوباما په پوره یقین سره ددی احمقانه تیروتنو په پوهیدو سره بیاهم افغانستان ته (۵۸۰۰۰) امریکا یی سرتیری دجګړی د پاره  ولیږل  اود ویتنام  د  دوه میلیونوڅخه تر دری میلونو  ویتنا میا نو  دوژنی تراژیدی هیڅ  په نظر کی ونه نیول.

هغه وخت چی جان کیندی ددامریکی جمهور ریس شو په همغه کال کی ښاغلی اوباما وزیږد یا دی  د نیا ته سترګی وغړول ، او دلته هغه شی چی با ید په نظر کی ونیول شی هغه دادی چی د یو نوی زیږید لی ماشوم  یا دیو نوی  په حال د  ودی کوچنی لکه بارک اوباما  څخه با ید دا توقوع ونوړل شی چی هغه د ویتنام د جګړی خا طری پخپل یاد کی راوړی  اویا دویتنام  دجګړی په باره کی  هغه جنجالی  تجربی  کوم چی د تاریخ د متن سره غوټی خوړلی یا اوبد ل شوی دی هغه ترلاسه کړی، مګر هغه په یقین سره  د کافی اندازی عمر ښتن وه  کوم چی یوڅه د نړی روان حالات پرهغه باندی خپل تا ثیرنه وی اچولی لکه پرعراق باندی د امریکی د متحده ایالاتو  نظامی قوتونه  چی  په  ډیر قهر او پوره خشونت  اوبیرحمی سره  پرنومونړی هیواد یعنی عراق با ندی  تیری  وکړ  او  هغه هیواد یی ترخپل ولکی اواشغال لاندی  راوستل ، او په دی  موده کي  اوباما  طبعاً  چی د بشپړ پوهی اودهوش ښتن وه او دبوش داداری پر دوه مخه پالیسی باندی ښه پوهیده .

اما اوس چی دهغه سره  په سپینه ما ڼی کی کا ر پوه مشاورین  دندی تر سره کوی اود تحلیل ، تجزیی اود مهارتونو  بشپړ  خا وندان   هرومرو ښاغلی اوبا ما ته  د ویتنام اودعراق دجګړو په اړه یوڅه معلومات ورکړی وی، اوپه تیره بیا داخلی هغه دافغانستان په اړه دهر ډول اشتباه څخه منع کړی وی یا هغه ته مشوره ورکړی وی .

بله هغه مطلب چی دلته باید یاد شی هغه داساسی پوښتنی دموضوع څخه  په انحراف ښاغلی بارک اوباما  دمارچ د میاشتی په «۲۴» کال «۲۰۰۹» په یومطبوعاتی کنفرانس کی داسی وویل («زه فکر کوم چی«۴۶»اخری ورځی مو کاملاًدمالی بحران دجنجالونو سره تیر کړ») اما په پوره ډادګیرنی سره برخلاف دمخکینیو تیرونیکونو کوم چی هغوی ددی توان نه درلود چی دوه کارونه  په  یوه وخت کی تر  سره کړي ، مګر زمونږ نوی جمهورریس اوس خوکافی وخت په لاس کی لری چی دخپل ګڼ مشاورینوسره په مشوره کی دافغانستان دروانو له خطره ډک  اوضاعو با ندی  یو ټاکو نکی معقول  پریکړی  ته ورسیږی یا داچی زه داسی فکرکوم ؟

ځغلنده لاره ترلاسه کول:حالات داسی ښیی چی دغه شواړه یا بی رقمه لړشانته انتظارنیم ساعت دجمهورریس دپاره ځنډ کوم چی جمهورریس ظاهرشی اوخپل ارشادات واوروی یا وړاندی کړی یوڅه غیرمعمول بریښی یا داچی دهغه دغه شواړه انتظار دځنو

دليلونوپربنياد شوی وی ،لکه دهغه بی ميلی ،يا داچي هغه نه غوښتل اويا نه حاضريدل چی خپل ارشادات وړاندی کړی بلکه دهغه مشاورين پرهغه باندی فشار غورځولی وی چی په مجبوری بنی سره خپل ويناوړاندی کړی اويا داچي را ولاړی شوی پيښی جمهور ريس دی ته اړ کړی وی چي دبشپړ معلوماتو دتر لاسه کول په نسبت يو څه تم شوی وی کوم چی ديو افغان سرتيری په ډزو سره دوه امريکای سرتيری مړ اودريم امريکای سرتيری ټپی شو مخکی له هغه چی نوموړی افغان سرتيری ځان پخپله ووژنی اويا داچی په همغه سهاری وخت موده کی د طا لبا نو جنګيا لی دافغان دپوليسو پر يو پوسته باندی يرغل وکړل او لس ا فغانی پوليسان يی په ډزو سره له پښو وغورځول او يا ووژل چی دغه ټول پورتنی د ليلونه شا يد چی دجهمهور ريس دانتظار وړلو زمينه برابرکړی اوسی .

ديادونی بل مطلب داچی هغه يعنی جمهور ريس ممکن دخپل وينا په وخت کی خپل لاسونه سره وښورروی.

يا داچی هغه غوښتل چي پوه شی چی د طا لبا نو استا ذی دپوليسو په جامه کی اوه پوليسان ټپيان کړ يا انتحار کونکی بمب ګذار چی د افغانستان پولی ته نژدی دپاکستان په قبا يلی سيمه کی يوه مسجد چی هلته په سلونو لمونځ کونکو دجمعی دورځی لمونځ تر سره کول دځان وژنی يرغلګر دبمب په چولو سره والوزول شو چی دهغه په ترڅ کی «۵۰» تنه لمونځ ګذارو خپل ژوند دلاسه ورکړل اود لمړنيو راپوررونو په حواله ډيری نور زيا ت خلک ټپيان شول.

يا په ډير ساده بنی سره شايد اوباما ته دهغه شعور يا اګاهي ويلی وی چی بايد يوڅه وکړی ګرچه هغه نه غوښتل چی څه وکړي ؟ نوشايد چی دغه پورتنی دلايل ددی سبب شوی اوسی چی هغه دخطابی ستيج ته نا وخته ورسيد اودهغه تر شا د هغه ځانګړی امنيتی مشا ورودريد کوم چی هغه کولای شوچی په بشپړه توګه سره دلرګوسر وګوری :

باربارا توچمن تاريخ ليکونکی خپل طرز تفکر پخپل نا می اوکلاسيک کتاب کی چی ( March of Folly) نوميری له توری (Troy : په اوسنی ترکيه کی يوه ښار دی چی هلته په تيروزمانو کی مهاجر يونانيان اوسيدل ) څخه تر ويتنام پوری دسر «ککره» دوضيعت ځارنه د مخکينی ثابت مفاهيمو څخه دهيلو په بی پروايي يا سهل انګاری سره کوم چی ځانته اجازه نه ورکول چی له حقايقو څخه انحراف وکړی په زرينو کرښوسره يوه داستان کی ليکی .اوهغه په دی داستان کی دشپاړلسم پيری دهسپانيی دوهم فليپ ته په اشاری سره ديوی جايزه وړونکی دلرګودسررومان ترعنوان لاندی ليکی :داوضاعو پرتله کول يا مقايسه کول شايد چی ډير زشت اوکرغيرن اوسی اما هغه څه چی د فليپ سره موجود دی يا دهغه په کړونو کی ليدل کيږی هغه دا دی چی هغه د خپل ما تی خوړلوماجراجويی ګا نو په ليد و سره دهسپا نی دولتی عوا يد ته ضرر رسول او دولتی عوايد يی راټيټول .

ځما په نظر په پورتني داستان کی دلرګو دسر څخه مطلب دادی چی پرافغانستان اوپاکستان باندي دنوی پراخ او هراړخیز ستراتیژی دپلی کولو په معنی اومفهوم دي ، کوم چی جمهور ریس ښاغلی اوباما دمارچ په میاشت کال «۲۰۰۹» کی اعلام کړ ، باربارتوچمن دلرګو د سر جریان ته په یوه لنډه اشاری سره داسی وایي :

« کله چی یوپا لیسی تصویب او په اجرا ولویږی نو وروسته له هغه ټول راتلونکی کړنی دهغه پالیسی دتحقق دپاره په کار ولویږی ، چی د هغه پکار وړل یوڅه درد ناک اوخوږمن بریښیی ،اما دواکمن یا دحا کم دپاره کله چی هغه د سیاست په محفظه یا جعبه کی ولویږی آسان بریښی چی هغه هملته دسیا ست دجعبی په دننه کی اووسي.اما درسمی اقلیتونو دپاره دا به ډیر ښه وی چی موجونه یا خوزښتونه ایجاد نکړی اویا له دی نه چی رهبری ته سرخوږی پیدا نشی اویا دهغه دمنلو وړ نه وی نو په میدیا کی حقایق باید خپورنکړی .

دپورتني یادونو په نظر کی نیولو سره ټولنی پیژندونکو (جامعه شناسان) دغه روند یاجریان ته دناسازګار اطلاعاتو غلبیلول، متفاوت ناسازګاری «ناهماهنګی» او یا په اکادمیک بڼی سره دځان بدلولو په نوم سره یا دوی اوهغه داچی «ما ددی واقیعتونو سره مه مغشوشوی اویامه می سرګډول کړیی» له دی څخه داسی په نظررسی چی دا یوائی دباربارا توچمن لور جیسیکا توچمن میتیوس د کارنیګی د بنیا د مشریا رهبری ته کوم چی هغه خپل ځان د ناهماهنګ (ناهمغاړی) پیژند نی پر ضد واکسین کړی دی مناسب اوښه وي .

په کال (۲۰۰۹) دجنوری په میاشت کی کارنیګ دافغانستان په هکله یو مشمول راپور وړاندی کړ:اوهغه داچی دشورشیانو دعملیا تو اود مبارزی د توقف د پا ره یواځنی مهم اواساسی لاره دادی چی دباندنی قوتونو په راایستلو باندی همدا اوس باید پیل شی اوغیر له هغه هرڅومره وخت چی با ند نی قوتونه په افغانستان کی او اوسی په همغه پیما نی اواندازی سره طالبانو ته نوی ژوند رابخښی یعنی دطا لبا نو غورځګ لاپسي پیاوړی کیږی . په هرصورت ښاغلی اوباما خپل پریکړه پرافغانستان باندي دنظامی مداخلی تر سرلیک لاندی دیو «سنجول شوی دقیق سیاست په تعقیب »سره کوم چی د افغانستان اودپاکستان نظامی قوماندانان اودیپلوماتیکی کړی سره دناټو دغړو هیوادو ایتلاف اوبین المللی سازمانونه خپل ونډه تر سره کړی توضیح او بیان کړ.

نه کوم تخمین؟ اونه ستونزی :هغه یعنی اوباما پوهیده چی ملی تخمینی اطلاعاتو ته اشاره ونکړی او په تغافل سره له هغه تیر شی داځکه چی ملی اطلاعاتی اټکلونه خپل احتمالی اغیزی دسرتیرو په «رغړیدو » اوترینګ باندی اچوی، نوله دی نه چی دغه ملی اطلاعاتی اټکلونه بلکل موجود ونه اوسی فکر وکړی چی ولی .؟ دولی ځواب په دی دلیل چی دغه له همغه حساب داری څخه شمیرل کیږی کوم چی په بشپړه توګه له

ملی اطلاعاتی اټکلونو څخه صرف نظر وشی مخکی له هغه چی د (۲۰۰۷) کال په اوایلو کی دعراق په دننه کی د سرتیری «رغږید نه» قوت واخلی .
دبلی خوا څخه په ظاهر کی داوباما مشاورین نه غوښتل چی مسولیتونه او خطری ومنی اوهغوی دیوځل دپاره په پوره انصا ف اوا یمانداری سره د ویتنام ، عراق او په همدی شان دافغانستان په هکله نه چی ځنی واقیعتونو تحلیل او وڅیړی یا همدارنګه ممکن د « نه هماهنګی پیزندنی » مفهوم ته د معافیت سبب ونه ګرځی او زمینه دی ته چمتو نشی چی دجمهور ریس څخه د نوی ستراتیژی په اړین سختی پوښتنی وشی .
په هرصورت په واقیعت کی ممکن دی چی هغوی همغسی ورته حکم اوقضاوت وکړی کوم چی داپریل په میاشت کال (۲۰۰۶) کی د ملی اطلاعا تو براورد او اټکل پرجها نی تروریزم باندی کړی وه وکړی ، لاکن ددغه براورد لیکونکی ځنی شناختی «پوهنیز» ستونزی لری چي په ډیر ساده لوحا نه بنی سره خپل حکم اعلاموی او وایی چی یرغل او اشغال ( په کال «۲۰۰۶» کی هدف دعراق اشغال دی) مونږ ته امن را نوړ یعنی زمونږ مصونیت ونه سا تل اما یوشی چي په ناڅاپی بنی سره رامینځته شوهغه په نړیوال توګه سره دبین المللی تروریزم په وړاندی پاځون دي .
ددی زمان لوړ اومتداول انګیرنه دجنرال دیوید پتریوس دسلوک سره سرخوری کوم چی هغه دتیرکال په وروستیو کی دپیشبینی په بنه دلاندنی کړونو اودروش په غوره کولو سره غوښتل چی پیشقدم شی اویا رهبری ترلاسه کړي : مونږ بنه پوهیږو او کولای شو چی خپل سیاست اوپالیسی پخپله وڅیړو اویا هغه تر سره کړو له تا سو څخه په ډیر درناوی سره مننه اوتشکر!
هغه یعنی دیوید پتریوس له هغه څه چی دملی اطلاعاتی اټکلو څخه رسمی غوښتنه وکړی خپل کړنه تر سره کړ کوم چي په معمول بنی سره داسی اطلاعات په مخه راځی اودسیاسیی پریکړو دپاره نوموړی معلومات اساسی بریبنی خو دافسوس ځای دادی کوم چي ښاغلی اوباما چی باید له دی اخری رسمی آتکلو څخه ګټه تر لاسه کړای وای فرصت دلاسه ورکړ اوله کټی اخیستو څخه محروم شو .
دیادونی بله مهم موضوع هغه داچی اخرنی ملی اطلاعاتی برآورد دلرګو دسر له ساحی څخه په نسبی بنی سره یوځه بی لاری اویا منحرف شوی ترسترګو کیدل یا داچی شاید اوباما اساسی اومعقول پریکړي کړی وی چی په افغانستان کی باید څه ډول اقدامات پلی کړي.
دیوی زاویی څخه ممکن داسی تصور وشی چی ملی اطلاعا تی اټکل یا برآورد کولای شی اویا باید وشی کړی چی په دغه موجوده حالاتو کی یو اساسی او کلیدی نقش ولوبوی اوپه عینی اوزړه ورتیا سره دقدرت په اړه ریښتینی څرګندونه وکړی ، کوم چی دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره ښاغلی چاس فریمن (Chas Freeman) دملی اطلاعاتی شورا دمشر په صفت ونومول شو اوهغه هم دخپل ټول پوهی سره وعده ورکړ

چي دغه دنده مخ ته ويسی اما سوال دلته دادی چی نوموړی ولی د ليکويد (داسرايل دښی لاس سياسی ګوند) ډپلوپانو له خوا وپرځيد ل يا له دی دندی څخه ګوښه کړ شو ؟

تخمين يا آتکل په ويتنام کی : د برآورد يا اټکل کولو يو ماهر تحليل کونکی داسی وويل : ما د ځو ملی اطلاعاتی برآورد په اړه په شپيتيم او اوياوم کلونو کی کار کول او دويتنام حالات څه دجنګ په کلونو اويا څه د جنګ څخه وړاندی می څارله ، نو د يو نه طبقبندی شوی حساس بی خوند موضوع تر عنوان لاندی می داسی ولوستل : «په مختلفو دورو کی په احتمالی بڼی سره دجنوبی ويتنام په نظرکی نيولوسره ديو ډول عکس العمل ښکاره کول »

دجمهور ريس اودهغه دمشاورينو په ادرس اوهغو ته په خطاب کی مو وغوښتل چی له هغو څخه د يو ډول نمونوی سوالونو ځواب تر لاسه کړو ،کوم چی دغه نمونوی سوالونه مو په دی ډول وړاندی کړل:ايا مونږ وشی کړی چی د بمونوپه ګذارسره هوچيمن (Ho Chi Minn) موکلابند کړو ؟ ايا په جنوبی ويتنام د هانيوی(Hanoi) ښار مود ځو زرو امريکای اضافی سرتيرو په داخلولوسره غلی کړ؟ هو ! څرنګه او د ځو ځو زرو سرتيرو په داخلولو ؟

مونږ خپل ځوابونه په منظم بڼی سره دزخم زبان يا د ترټل شوی په شکل له سپينی ماڼی څخه تر لاسه کړ لدی نه چی مونږ «يوښه کاری ټيم » نه ياستو ، اما په هغو ورځوکی مونږ دښه انسانی اخلاقو په لرلوسره سياست ګذارانوته بی له کوم ډار اويا ګټی دا موقع ورکړ او دهغو پاملرنه مو دی ته واوړول چی د حرفه ای يا د دندی د سا تنی اوحفاظت دپاره يو لړ اقدامات تر سره کړی. زمونږ قضاوت(په هرصورت) د ا ستقبال وړ ونګرځيد، بلکه دتنفر اودکرکی سره مخامخ شو اوزمونږ کړنه يومنفيګرايا نه عمل وګڼل شو دبلی خوا څخه سياست ګذاران البته په هيڅ بڼی سره دا مسوليت ونه منل چی هغوی ځان دی ډول حساب ورکولو ته ځان چمتو کړی..

ديادونی وړ مطلب دادی چي هغوی(امريکايی حاکمان ) د تشد د په لټه کی دی يعنی غواړی چی د تشد د سياست ته لمن ووهی حال داچی حتی ليندن جانسن اوريچاردنکسن دامريکی پخوانی جمهورريسا نوبی له يو قا بل دملاحظی اطلاعاتی اومعلوما تی تخمين او اټکل څخه پرته هيڅوخت نه غوښتل چی يبی له دامريکی د ښمنانو دا حتمالی چټک غبرګون دارزياب څخه پهدی موضوع اويا په هغه بل موضوع با ندی تشد يدی ګامونه اوچت کړی .

زه داسی انګارم چی جنرال پتريوس او هرهغه بل کسان چی دهغه له مټ څخه نيولی اودهغه سره په دی مورد کی مرسته تر سره کړی ورته شا با سی ووبل شی کوم چی هغه اطلاعاتی څيرونکی يا تحليل ګر بغل يا حاشيی (څنډی) ته ټيل وهلی دي .

اطلاعاتی څيرونکی دافغانستان داردو اوډپوليسو دترينګ په اړه څه ويلی دی؟ هغه

ویلی چی مونږ په دی مورد کی زیات څه نه پوهیږو اما دابه ډیر سالم اقدام او خوندی کړنه به وی که چیری ځیرونکی اوتحلیل کونکی دافغانستان په اړه (یا دویتنا م په اړه ) څه معلومات لری چی مونږ سره دی شریکه کړی اوهم لازم برېښی چی د جنرال پتریوس د نقش اودهغه پرجا نس اوطا لع اودهغه پرغوښتنو باندی خپل سترګی خلاصه کړی.

لکه هغسی چی پورته په ذکر ورسید په همغه شان کوم چی په عراق کی ترسترګو شو مختلفی ډلی ټپلی یودبل پرضد خپل سلاح دتریننګ اودراتلونکی عملیاتونود سرته رسولو د پاره ځان سره وسائل .

خیالی روزنه (The training Mirage) : ښاغلی اوباما دامریکی دمتحده ایالاتو جمهور ریس دافغانستان دپالیسی اودسیاست په اړه پخپل وینا او بیانیه کی یولس ځلی دتریننګ کلیمه زمونږ په وړاندی کوم چی زمونږ دځنو ځنو ویښتان خا کستری رنګ اخیستی دی تکرار په تکرار تری نه یادونه وکړ او د تریننګ د کلیمی دومره له حده زیات یادونه په همغه شان دي کوم چی دامریکی د متحده ایالاتو مخکینی چارواکی دویتنام دجګړی په پیل کی همدا ډول بی مفهوم اوتش شعارونه په پرله پسی اوپه تکرار سره ورکول.

په هرصورت دفبروری میاشت کال (۱۹۶۴) کی جان کیندی مړ شو اودهغه څخه وروسته لیندن جانسون دامریکی دمحده ایالاتو دجمهور ریس په صفت واک تر لاسه کړ په دی وخت کی دامریکی د دفاع وزیرښاغلی مکنامارا په یوناڅاپی توګه سره دامریکی ددفاعی سیاست په نظر کی نیولو سره دوینا اود بیانی ورکولو دپاره چی په هغه کی یاده شوی وه (مونږ له ویتنام څخه اوځو) یوه متن چمتو کړ او بیایی دغه چمتو کړ شوی متن د بازرسی اویا له سره دسرکتنی دپاره جمهورریس ته ولیږل ، اما جمهور ریس وروسته له هغه چی نوموړی بیا نیه ولوستل یا دامریکی د دفاعی دوکتورین ته په اشاره سره د یو نیوکی په ترڅ کی دمکنامارا په اړه دهغه پرخطا او اشتباه باندی تم شو اوویل :

لیندن جا نسن: ما ته د تعجب ځای دی چی تا سی دوه دقیقی نور ونه لری چی هغه د ویتنام موضوع ته ځانګړی نکړی ؟

مکنامارا: ستونزه په دی کی دی چی دهغه په اړه با ید خبری وشی .

لیندن جانس: زه باید ووایم اوهغه دا چی مونږدویتنا میا نو دآزادی دپاره تعهد سپارلی .. زمونږ مقصد او هدف دادی چی د [جنوبی ویتنام ]خلک ورروزو ، اوداځکه چی زمونږ دروزنی پروګرام په ښه شان مخ ته ځی .

اما زمونږ روزنه د لته په افغانستان کی ښه پر مخ نه ځی ، اوهغه متخصصین یا افغانستان پیژندونکی کوم چی دافغانستان دمختلفو قبایلواودتولنی پیژندنی په اړه معلومات لری اویا پوهیږی مونږ ته وایي : چی دغه ډول روزنه لکه هغه شا نته روزنه نه دی

اویا دهغه ډول روزنی سره ورته نه دی کوم چي په پاکستان کی تر سره کیږی .
د «اوباما » فصاحت ، بلاغت اولفاظی کوم چی هغه له دی صفا تو څخه برخمن دی په آ سا نی سره نشی کولای چی په افغا نستان او پاکستا ن کی د سرتیرو په روزلو یا زیا تولو سره کوم چی په ویتنام کی ویتاګان ته ما تی ورکړ ،القاعدی ته ماتی ورکړی.
داسی په نظر راځی چی ښاغلی «اوباما »ددغه لړ پرمختګ پررووند با ندی اعتراض لری اوهغه داچی مونږ ترڅوبه په کورکورانه بڼی سره په همدی مسیر اوموقف کی پاتی شو ؟. نه ښاغلي!
دلته د پرمختګونو اود وړاندی تلنو د پاره متریک معیارانو چی د خپل سا تنی د پا ره ځوابګویی اووسی باید په لاس کی ولرو ؟ هو ښاغلي!
اوهغه داچی مونږ ددی دپاره چی په منطقه کی مصونیت او امنیت تامین کړو نو د «اوباما» په قول سره بین المللی مرستو اوپه سرکی دروسی ، هند او چین هیوادونو مرستو ته ضرورت لرو . صحیح دی ښاغلي !
اوباما دخپل نتیجه ګیری په اخر کی وویل چی زمونږ په مخ کی اوږده لارپروت دي ، نو په دی وجهه هغه حق لرل چی یو تضمین کونکی ستراتیژی په تصویب ورسوی ،
کوم چی دهمدی دلیل په نظرکی نیولوسره دامریکی دمتحده ایالاتو یو لوړپوړی قوماندان په افغا نستان کی په ښکاره بڼی سره پر خپل آمر یعنی رابرت ګیتس دامریکی د متحده ایالاتو ددفاع پر وزیر باندی دهغه دمتناقض بدبینی کوم چی د(۲۰۰۸) کال په وروستیو وختو کی پر افغانستان باندی لرل اعتراض اونیوکی وکړ. اوپه افغانستان کی د سرتیرو د «رغږید نی) پر لږلید باندی په خبرو راغي.
هغه یعنی قوماندان مکیرنان (Mckiernan) په ښکاره توګه سره داسی ټینګار کول چی دسرتیرو «رغږید نه » دعراق په ستا یل یا ورته بڼی سره نشی کولای چی په افغانستان کی داختلافاتو ټغر ټول کړي هغه کلیمه چی زه نه غواړم د افغانستان د پاره د لته یاد کړم هغه د (رغږید نی) کلیمه دي ، هغه زیاته کړ چی په افغانستان کی هغه څه چی ضروراً باید پرهغه باندی ټینګار اوسی اوله پامه ونهِ غورځول شی هغه « د تعهداتو پیګیری او سا تنه دي». کوم چی هغه یعنی دغه تعهدات له څو وروستیو کلنو څخه راهیسی زمونږ دلاسه تللی اوپه نهایت کی ضرور بریینی چی هغه تعهدات بیرته په ډیپلوماتیک اوسیاسی چلند اوسلوک سره را ژوندی کړ شی اودا ځکه چی نظا می ټکل یا چلند دافغانستان دموجوده اړودوړو دحل لاره نه دي .
قوماندان مکیرنن داحق لرل چی خپل وړاندیز داسی څرګند کړی اما داسی ښکاری چي ښاغلی ګیتس ددی خبرو سره چندان علاقه نه لرل اونه یی غوښتل چی هغه خبری ومنی.
ګیتس په دروازه کی : د «۲۰۰۸» کال په وروستیو وختونوکی کله چي ګیتس دیو

مانور به اجراکولو سره غوښتل چي په نوی کا بینه کی دامریکی د متحده ایالاتو د دفاع دوزیر په صفت پخپل مقام کی پا تي شي ،نو هغه شد یداً په دی هکله باندی ټینګار کول اویا دهغه تصور دا وه چي په افغانستان کی هر شی له کنترول څخه وتلی او دهغه مهار کول ډ یر ستونزمن دی ، هغه دخپل دغه باور اوادعا د پاره پرخپل ځنی خوشبا ورانه دریځونو با ندی ډېره لګول او خپل دغه خوشباوری دهغو زړو ، اوکهنکارو افسرانو په غیر مستند او دخولی په خولی اطلاعاتو اومعلوماتو پربنسټ دلیل راوړل یعنی هغه دغه لاسته راوړی معلومات دخپل استدلال اصل ګڼل اوپرهغو اطلاعاتو باندی ټینګار کول خصوصاً دهغو زړو اومخکینی افسرانو پر اطلاعاتو باندی کوم چي هغوی د (۱۹۶۰) دویتنام په جګړو کی ونډه لرل اویا دهغه جګړی په اړه ځنی خاطری لرلی اویا په ورته بڼی سره هغو افسرانو او مخبرانو کوم چی په کال (۱۹۸۰) کی هغه وخت چی شوروی قوتونه په افغانستان کی په جګړه بخت وه .

ګیتس همدارنګه داسی توضیح ورکول : هغه ویل چی طالبان هیڅکله دافغانستان یوه سیمه یا یوه برخه دتل دپاره پخپل ولکی کی نه درلودل اوهر کله چی دایتلاف دقوتونو سره په جنګ جګړه کی مخامخ شوی دی له هغه سیمه اومنطقی څخه تښتید لی دی او هغه سیمه یا منطقه یی دلاسه ورکړی .

زمونږ د دفاع وزیر ښاغلی ګیتس له نظره داسی راښکاری او یا دهغه تصور دادی چی دامریکی دمتحده ایالاتو دغښتلی قوتونو سره دښمن یعنی طالبان او القاعده حتی په مخامخ اودتین په تن جنګونو کی نشی ټینګید لی او یا داچی مونږ هیڅ شی دلاسه نه دی ورکړی اما د ګیتس څخه هیر دی اوهغه داچي [« د جولای د میاشتی په «۱۳» کال «۲۰۰۸» کی کله چی طالبانو دکونړ په ولایت کی د ښارڅخه دباندی پر پوستو با ند ی یرغل وکړ نودهغه یرغل په نتیجه کی دامریکی د متحده ایالاتو (۹) نفر سرتیری مړ او (۱۵) نور سرتیری ټپیان شول ] چی دا پخپله له حقیقته څخه انکار اوپه ظاهری کیبفیت باندی ډېره لګول بی له هغه چی موضوعات یود بل سره په ارتباطات وڅیړل شی بل شی نه دی .

ګیتس باید دخپلو کلماتو دراستنولو او یا درابللو اوتکرارولو دپاره دویتنام په اړه یو څه ولولی یا لوستلی وای لکه دامریکی د متحده ایالاتو د کلونیل هاری سومیر ( Col Harry Summers. )د بیرته پا تي نظریو په څیرکوم چی هغه وروسته دجګړی دلاسه ورکولو څخه څرګند کړی وه .

سومیر په کال (۱۹۷۴) کی ها نوی ته ولیږل شو چی هلته یعنی په شمالی ویتنام کی دخپل همتا ښاغلی (Col. TU) سره دهغه امریکا یا نو د موقف یا دوضیعت په اړه کوم چی هغوی ورک اویا بی پته شوی دی دحل لاری پیداکړی ،اما کله چی سومیرامریکا یی استاذی دخپل شمالی ویتنام له همتا سره په خبری پیل کړ نو مخکی له هرڅه هغه ډیر

غلطی وکړ او په لافو باتو با ندی پیل کړ :چی تا سی په هیڅ بنی سره مونږ ته د جګړی په میدان کی ما تی نشی راکولی .

ښاغلی کولونیل تو (Colonel TU) دسمیردخبرو په وړاندی داسی عکس العمل وښود : « ښه نو همداسی ! اما داخوداجندا دموضوع څخه دباندی دی ؟ زه دغه لوړپوړی نظامی استای یواځی نه ملامتوم یا هغه ګرم نه بولم زه غواړم چی هغه وبخښوم ! ځکه چی دوی ټول له یو سره په ورته بنی سره ډیر ډارن اوکم جرءت دی اوهغه داچی هغوی ښکته هیڅ نه ګوری چي په ویتنام کی حالات څرنګه دی او څه راپیښیږي ؟

داسی رامعلومیږی چی موجوده کارکونکی د ښه رنګ و بو «عطر» خاوندان دی اودهغو د پاره یوه شی چی اصلاً وجود نه لری دواسواس اود تشویش زمینه اوپلمه را برابروی چی له هغه څخه با ید بخښنه وغواړی دبیلګی په بڼه : که چیری بحری جنرال یو څیګ وایی نودهغو دپاره دا به لږ دحیرانتیا ځای نه وای چی هرشي هغو ته د میخ په بڼه ښکاریده -نه ٠ هغو ته به کوم بها نه نه ورکول !

په هر صورت هغه کس کوم چی داوباما د وینا کولو په وخت کی دهغه تر شا ولاړ وه ډیر زیرک بریښیده که چیری ویلی وایي : ښاغلی« اوباما » داډیر بد او کرغیړن دي ، او مونږ نه باید دومره دهغه په انتظار کی اووسو . اوداځکه چی دافغانستان دغرونو او ددرو په مینځ کی په ګلنونو اوپه بوشکو بوشکو دبی ګناهو خلکو وینه تویو شو اولازم نه دی چی دبلی لسیزی د پاره په هغه وطن کی دوینی ویالی وبهیږی ،هوکی دا د تا سو وینه نه دی چی هلته بهیږی .

دنظامی مشاور غږ: ددی موضوع په ارتباط په یو ناڅاپی بنی سره یو نظامی جنرال خپل غږ پورته کړ او داسی وویل : استثنا ت ډیر کم او جزوی وي کوم چی دهغه په ذهن کی په فوری توګه سره یوه تاریخی خبره رایاده شو اوهغه داچی : د مثال په بڼه دفرانسی دجنګ قهرمان جنرال فلیپ لیک لرک (Gen. Philipp Leclerc) ددوهم نړیوال جګړی څخه وروسته هندوچین ته ولیږل شو اوهغه ته دنده ورکړ شوی وه چی هلته لاړ شی او دهغه ځای اوضاع له هر پلوه وڅیړی او بیا دیو راپور په بڼه خپل دسترګو لیدلی حال بیرته فرانسی ته ولیږی چی که چیری بیرته دلاسه تللی هند وچین تر لاسه شی نو په هغه صورت کی به په څه شمیر سرتیری ته ضرورت لیدل کیږی هغه پخبل راپور کی لیکلی وه چی ددی د پاره چی هندوچین بیرته ونیول شی (٥٠٠٠٠٠) سرتیروته ضرورت دی مګر په یو شرط چی دغه (٥٠٠٠٠٠) سرتیری دی فرانسوی سربازان ونه اوسی .

په مساوی اوپه ورته بنی سره دا«وباما» دپریکړی دسرته رسولو په اړین دلته یوه بله موضوع باید په ذکر ورسیږی اوهغه داچي جنرال دوګلاس مک ارتور( Gen. MacArthur) داپریل په میاشت کال (١٩٦١) کی یوبل ځوان جمهور ریس (کینیدی)

ته داسی وویل : هرهغه څوک چی وغواړی دامریکی دمتحده ایالاتو ځمکنی نظامی قوتونه دآسیا اصلنی وچی ته ولیږی هغه دی با ید یوځل خپل ککره یا ماغزه وازمایی!
دجان کینډی لوړپوړی نظامی مشاور پرجان کینډی باندی دهغه دبی میلی په اړه چی په نوموړی نظر کوم چی دهغه له خوا تقریباً یو خا ینا نه نظر کنټل کید ل نیوکی وکړ او زیاته یی کړ چی زما انتقاد پرهغو دی چی دلاوس دجګړی پاي مذاکرات اودمذاکراتو دوام بولی نو ددی یادونو څخه مطلب دادی چی جان کینډی ته لازم وه چی لمړی خپل جنرال یعنی مک ارتور متقاعد ګرځولی وای چی د اسی خبری نه باید کړای واي خو په هرصورت (افسوس چی اوس دلته دپرتله کولو وخت په لاس کی نشته اوهم نن جنرال مک ارتور ژوندی نه دي )هغه وختونه اوس تیر دی .
کینیډی ویتنام دیوی قوی با تلاق «جبه زار» په څیر پیژندل اوداسی څرګندول چی نوموړی هیواد هیڅکله د بی لاری اوګمراکونکی لاربښونی ،ایدیلوژیکی برخوردونو اود تروی «نمکین » مشوری ورکولو کوم چی د(IVY «دپوهنتونو لیګ») لیګ لکه مک جورج بونډی(McGeorge Bundy) په ونډو اخیستوسره نشی کیدای چی وزبیښل شی. دجان کینیډی نظامی مشاوربښاغلی مکسول تایلور(Maxwell Taylor) داسی ویل چی دمک ارتور وروستی وینا اوغبرګون دجان کینډی نظریاتو او (احساساتو) ته د دوزخ دروازی خلاصه کړل» .
دهندوچین په وضع باندی د مک ارتور بله نظر او وړاندیز کوم چی جا ن کینډی ته په ارث ورسید هغه داوه چی ځوان جمهور ریس یی دهندوچین دروانو حالات دوضع په هکله سرګیچ اوسربدال کړ کوم چی جمهور ریس کینیډی د هغه خبری او مشوری چی دکینډی دتشویش موجب شوی وه پخپل یاداشتونو او دخاطراتو په میمورانډم کی لیکلی دی اود مک ارتور له قول څخه دهغه یوه خبره داسی څرګندوی :« چرګان دشپی دتیرولو د پاره د هایزناور له کلونو یا وختونو څخه خپل خونی (مرغانچی ) ته راځی یا بیرته راګرځی اما تاسی دچرګانو په مرغانچه کی خپل ژوند تیرویی .
هوکی چرګان ددیګچینی اودبوش دزمامداری څخه اته «۸» کاله روسته بیرته خپل دشپی تیرولو دپاره مرغا نچی ته راګرځی مګر بد بختانه چی دلته هیڅ نښی اونښانی نه ترسترګو کیږی چی ښاغلی« اوباما» هغه ووینی یا واوری او یا له هغه چا څخه چی د افغانستان وضع اودپرابلمونو دحل بر لاری باندی دتازه اود نوی فکر کولو توان ولری دهغو خبرو ته غوږ ونیسی . نو په دی بنیاد سره داسی ښکاری چی« اوباما» دځان سره پریکړه کړی چی دچرګانو په همدغه مرغانچه کی پاتي شي اوپه لوړ آواز سره ووایی ښه چرګان .
په واقیعت کی زه نشم ویلی چی جک کینډی (Kennedy) پوهیده اما همغه وه چی لکه دډیرونورو مونږ په شان دلته په واشنګټن کی دیوشی په لټه کی وه چي دخپل هیواد

دپاره ترسره کړي.

کيندی پخپل وخت کی ددیرو هغو فشارونو په وړاندی ایستا دګی او مقاومت وکړ کوم چي اوبا هغو فشارونو ته ځان تسلیم کړ ، ( دلته د کيندی په اړه حتی لکه جیم دوګلاس (Jim Douglass) پخپل کتاب کی چی دهغه عنوان ( JFK and the unspeakable) دی لیکلی او دهغه پا یلی دجان کيندی د وژلو په اړه له ځنی اسرارو څخه پرده پورته کړی دی .

ښاغلی« اوباما »، تاسی باید د یو داسی مشاور په لټه کی ولویږی چی دهغه دغوږ تر شا رطوبت ونه لری اوهم دقهویی پزی لرونکی ونه اوسی بهتره به داوی چی هغه کس یا مشا ور باید دویتنام اودعراق په ژوندیو موضوعاتو باندی سربیره چی باید پوره معلومات ولری باید چی دهغه هیوادونو دپرابلمونو اودحالاتو دتحلیل اودآرزیابی واقعبینانه توان اوکفایت ولری او واقیعتونه دفکتونو پر بنیاد وځیړي .

بله مشوره چی باید تاسی ته ورکړ شی هغه دادی چی تا سی با ید ددوګلاس لیکل شوی کتاب , ولولی په عوض ددی چی د لنکولن دتیم هغه څه شی چی د( Team of Rivals)ترعنوان لاندی په ډاګه کړی هغه تقلید کړی (سره له هغه چی زه پخبله د دوریس ګودوین له پلویانو څخه یم ، لاکن دنیل ایلسبرګ (Daniel Ellesberg) دزمان په نظر کی نیولو سره اودموضوع په اړین پخپل توضیحاتو کی زیات دقت کړی ) اوبیا په ځا نګړی بنی سره د دوګلاس د کتاب هغه پا ڼی په د قت سره ولولی کوم چی دپنتا ګون په کړنو با ندی پری مکث شوی دي . نو تاسی محترم جمهور ریس باید چی ددانیل ایلسبرګ مخفی رازونه هم ولولی چی تا سی ته دزمان په پیژونه اوشناخت کی ستر کمک کوی .

دلته لا تراوسه کافی اندازی وخت په لاس کی شته چو د دی تهلکی اوفاجعی څخه مخنیوی اوشی اود ویتنام د جنګ څخه با ید درس واخیستل شی کوم چی ډیر اصلی او کلیدی درس ګڼل کیږی اوهغه داچی یوه اردو کوم چی دخارجی اشغالګرو پواسطه سره تربیه کیږی اود بیلینونو ډالر په لګښت سره بی له دی چی دهغه انتظار وړل شوی وای په یو ګوریلای جګړه کی دما تی سره مخامخ کیږی .

پروفیسور مارتین فانکرییلد (Martin Van Crveld) په دارالسلام کی د عبریو دپوهنتون استاد هغه یواځنی غیر امریکای نظامی تاریخ پیژندونکی دی کوم چی هغه دامریکی دمتحده ایالاتو داردو افسرانو د پاره د هغه یوشمیر مقا لو ، کتابونو او داثارو دلوستلو وړاندیز کوی چی په هغه اثارو کی پر مخکینی جمهور ریس ښاغلی جورج والتر بوش باندی داسی نیوکی کړی کوم چی هغه د اګوستوس (Augustus) امپراتورله وخته چی په (9 BC) کی خپل لښکریان دجګړی دپاره جرمنی ته ولیږل اودهغه لښکریان هلته په جرمنی کی ټول هلاک شوی بل چا لاتراوسه داسی یو احمقانه جنګ په لار کی

نه دی اچولی کوم چی دغه احمقانه جنګ بوش په لار کی واچول .
لطفاً تاسو ته باید دااحساس پیدا نشی چی دافتخاراتو دلاسته راوړلو دپاره دخپل تیر ځای ناستی سره رقابت وکړی ؟

ددی مقالی دلیکونکی په اړه لنډه توضیحات : ښاغلی ری مکګوبرین د ( Tell the Word ) کوم چی دواشنګټن د ښار په دننه کی د(ecumenicaal) کلیسا پوری تړلی یونظامی مطبعه کی کار کول هغه (۵۰) کال دمخه واشنګټن ته راغلی او تراوسه پوری هغه د(۷) تنو جمهور ریسا نو تر لاس لاندی بی له ګیتس څخه کار کړی او اوس هغه د سالم عقل داطلاعاتی حرفوی ګروپ سره ګډ کارکوی .

په درناوی